# الطلاق

**مدنی سورة دی ١٢ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ ٱلۡعِدَّةَۖ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا
يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن
يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ
ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١

**ای پیغمبره!( مؤمنانو ته ووایه:) کله چې ښځو ته د طلاق ورکولو اراده وکړی، نو د عدت په وخت کې( یعنې له میاشتنی عادت نه د پاکوالی او طهر نه وروسته، او له کوروالی نه وړاندې) ورته طلاق ورکړئ او بیا یې د عدت د ټاکلې مودې حساب ( درې طهره) وشمیری،او له خپل رب الله تعالی څخه وویرېږئ او هغوی( د عدت د پوره کیدو تر وخته) له خپلو کورونو مه وباسئ او هغوی هم باید( د عدت په موده کې) له کورونو څخه و نه وځی، خو که د کوم ناوړه عمل( فحاشئ، بد خلقې، بې احترامئ او جنګ او جنجال) مرتکبې شی( نو په ویستلو کې یې په تاسو کومه ګناه نشته). دا د الله تعالی حدود دی او له الهی حدودو تیری کوونکی، بې له شکه په ځان ظلم کوونکی دی. ( ای طلاق ورکوونکیه) ته نه پوهیږې، کیدی شی الله تعالی له دې وروسته( د رجعی طلاق د عدت په موده کې) داسې یو کار وکړی چې د دواړو( ښځې او خاوند تر منځ) د سولې او پخلاینې سبب شی.**

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ
وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ
يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل
لَّهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾

**او كله چې د ( درې مياشتنى) عدت د پوره كيدو وخت راورسى نو يا يې په ښه او نيكه طريقه( او د يو بل د حقوقو په رعايت كولو سره) وساتى، او يا يې په احسنه طريقه( د شرافت د اصولو په رڼا كې د ټولو شرعى حقوقو په وركولو سره) جلا كړئ، او د جلا والى لپاره بايد دوه عادل كسان ګواهان ونيسى، او( اى ګواهانو!) تاسو بايد د الله تعالى لپاره ګواهى وركړئ. د دې (حقايقو) په وسيله تل هغو كسانو ته پند وركړى كيږى چې په الله تعالى او د قيامت په ورځ ايمان لرى، او څوك چې له الله تعالى څخه وويريږى( په هردول سختو شرايطو كې هم الهى احكام تطبيق او له ګناهونو او معاصيو نه ځانونه وساتى، الله تعالى) به ورته له ستونزو څخه د نجات لاره خلاصه كړى.**

وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ
بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾

**او له هغه ځايه به ورته روزى وركړى چې د ده په فكر كې به هم نه ګرځى، او څوك چې په الله تعالى توكل وكړى همدا ورته كفايت كوى، او الله تعالى هر كار ته چې اراده وكړى، سرته يې رسوى، او د هر شى اندازه د هغه له خوا ټاكل شوې ده.**

وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ
أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ
وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴿٤﴾

**او ستاسو هغه ښځې( چې د عمر د زياتوالى او نورو عواملو له امله) پرې مياشتنى عادت نه راځى، او تاسو يې د عدت د مودې پحقله په شک كې ياست نو د هغوى د طلاق عدت درې مياشتې دى، او همدا حكم د هغو ښځو پحقله دى( چې د قانونى عمر د پوره كيدو سره سره ورباندې بياهم) مياشتنى عادت نه راځى. او د حمل**

لرونکو ښځو د طلاق عدت د ماشوم د زیږیدو تر وخته دی. او څوک چې له الله تعالی وویریږی( او الهی احکامو ته غاړه کیږدی) الله تعالی به ورته تولې( ستونزمنې) چارې اسانې کړی.

ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا ٥

دا د الله تعالی تاکل شوی حدود دی چې تاسو ته یې نازل کړی، او څوک چې له الله تعالی وویریږی( او الهی حدودو ته غاړه کیږدی) الله تعالی به ترې ګناهونه ورژوی، او لوی اجر او ثواب به ورکړی.

أَسۡكِنُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ سَكَنتُم مِّن وُجۡدِكُمۡ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُواْ عَلَيۡهِنَّۚ وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمۡلٖ فَأَنفِقُواْ عَلَيۡهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ فَإِنۡ أَرۡضَعۡنَ لَكُمۡ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأۡتَمِرُواْ بَيۡنَكُم بِمَعۡرُوفٖۖ وَإِن تَعَاسَرۡتُمۡ فَسَتُرۡضِعُ لَهُۥٓ أُخۡرَىٰ ٦

خپلو مطلقه ښځو ته( د عدت د پوره کیدو تر وخته) تر خپلې وسې پخپلو هغو کورونو کې د هستوګنې حق ورکړئ چې تاسو پکې اوسئ او هغوی ته په( نفقه او مسکن کې) زیان مه رسوئ، او ژوند وربانديې داسې مه تنګوئ( چې هغوی کور پرېښودو ته اړې شي). او که حاملې وی نو د ماشوم تر زیږیدو یې ورته د نفقې مصارف هم ورکړئ، او که( له جدایی نه وروسته) ستاسو ماشوم ته تی ورکوی نو اجوره یې ورکړئ( او د ماشوم پحقله) پخپل منځ کې نیکه مشوره وکړئ( تر څو داسې عادلانه فیصلې ته ورسیږئ چې نه خاوند، نه میرمنې او نه ماشوم ته زیان ورسی) خو که په یو بل سختی کوئ( او توافق ته نه رسیږئ) نو د ماشوم پلار دې د( تی ورکولو اجوره) بلې ښځې ته ورکړی.

لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهُۥ فَلۡيُنفِقۡ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَاۚ سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ٧

په شتمن باندې دهغه د استطاعت سره سم( خپلې حامله ښځې ته د طلاق د عدت په وخت کې) مصارف ورکول لازم دی او تنګلاسی به د خپل مالی طاقت سره سم، له هغه رزق نه چې الله تعالی ورکړی، مصارف ورکوی. الله تعالی په هیچا له طاقت نه زیات پیتی نه ږدی، او الله تعالی له هرې سختۍ او تنګسیا نه وروسته آسانی راولی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبۡنَٰهَا حِسَابٗا شَدِيدٗا
وَعَذَّبۡنَٰهَا عَذَابٗا نُّكۡرٗا ٨

ځومره ډېر کلي او ښارونه وو، چې( اوسيدونکو يې) د خپل رب( له احکامو) او پيغمبرانو( له دعوت) نه په اعتراض سره مخ وګرځاوه، او مونږ ورسره سخته محاسبه وکړه او په سخت او شديد عذاب مو اخته کړل.

فَذَاقَتۡ وَبَالَ أَمۡرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمۡرِهَا خُسۡرًا ٩

نو د خپل کفر او غرور د سزا خوند يې وڅاکه، او بالاخره له سخت زيان سره مخامخ شول.

أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ قَدۡ أَنزَلَ
ٱللَّهُ إِلَيۡكُمۡ ذِكۡرٗا ١٠

الله تعالى د هغوی لپاره( په آخرت کې) سخت عذاب تيار کړی، نو ای د عقل او پوهې لرونکو مؤمنانو! له الله تعالى نه ووېرېږی، بيشکه چې الله تعالى تاسو ته پند او نصيحت( قرآن) نازل کړی دی.

رَّسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا
يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ قَدۡ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ
رِزۡقًا ١١

رسول( محمد صلى الله عليه وسلم) زمونږ روښانه آيتونه تاسو ته لولی ترڅو د ايمان راوړونکی او نيک عمله کسان( د کفر او جهل) له ترګميو نه ( د علم او ايمان) نور ته راوباسی او څوک چې په الله تعالى ايمان راوړی او نيک عملونه کوی( نو الله تعالى به يې) هغو جنتونو ته ور داخل کړی چې د( ونو او مانيو) لاندې يې( د الهی نعمتونو) رودونه روان دی. او هلته به تلپاتې ژوند ولری او نيکه روزی به يې هم په برخه وی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ
لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ
عِلْمًۢا ﴿١٢﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې اوه آسمانونه او د هغو په شان یې اوه ځمکې پیدا کړی، فرمان یې په هغو کې نازل( او نافذالعمل) دی. ترڅو وپوهیږئ چې الله تعالی په ټولو چارو د کامل قدرت لرونکی او علم یې په ټولو شیانو احاطه لری.**

**« تمت سورة الطلاق بفضل الله و رحمته»**

**======================**